# خبرپاڼه

## د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام

UNDP

١١ غويي ١٣٨٥

## د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ لومړنی ملي کانفرانس پای ته ورسېد

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ ترسره شوي کانفرانس کې پرېکړه وشوه چې "د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ ملي شورا" دې جوړه شي، تر څو په هېواد کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ په برخه کې د ټولو برخه والو خواوو استازي په کې شامل کړای شي. شورا د دې لپاره جوړېږي چې حکومت ته په پراختیایي پروژو کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژیو د پلان جوړونې او کاراخیستنې په برخه کې لارښوونه او مشوره ورکړي. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ په دغه کانفرانس کې چې د غوايي پر ۵ او ۶ نېټه (اپریل ۲۵ او ۲۶) تر سره شو د افغانستان د خصوصي سیکتور کمپنیو او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ نړیوالو کمپنیو په ګډون د بېلابېلو ادارو او سازمانونو سلګونو استازو برخه واخیسته. د ولسمشر لومړي مرستیال احمدضیا مسعود په دغه کانفرانس کې وویل چې د تېرو څو کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې د مخابراتي ټکنالوژۍ د کارونې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنو سره سره باید لا ډېر کار وشي.



***د مخابراتو وزیر امیرزی سنګین په غونډه کې د وینا پر مهال***

> **د معلوماتی او مخابراتي ټکنالوژۍ له پروژې سره د اروپایي کمېسیون، مایکروسافټ، سیسکو، فرانسې، د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام او د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیايي ادارې له خوا مرسته کېږي.**

### په دې ګڼه کې


افغان ولس د خپل راتلونکي لپاره په پلان جوړولو کې نظر ورانډې کوي ٢
له افغان مقننه قوې سره به د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام مرسته ادمه پیدا کړي ٢
د افغانستان په پرمختګ کې د ایریکو ونډه وستایل شوه ٢
د افغانستان د حقوقو محصلینو په نړیواله سیالۍ کې برخه واخیسته ٣
د مشرانو جرګې او د مقننه قوې د ملاتړ د پروژې SEAL له خوا تنظیم شوي کانفرانس د کاري ورتیا د لوړولو لپاره ګټور تمام شو ٣
د سیسکو اکاډمي د معلوماتي تکنالوژۍ د راتلونکي پراختیا لپاره ستېزیز کار پیل کړ ٣


## د نشه يي توکو پرخلاف د مبارزې امانتي صندوق د پروژو پر پلي کولو لاس پورې کړ

د نشه يي توکو پرخلاف د مبارزې امانتي صندوق چې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام له خوا د تیر کال د اکتوبر په میاشت کې د افغانستان له حکومت سره د اپینو د تولید او د نشه يي توکو د تجارت پر خلاف هڅو کې د مرستې لپاره جوړ شو، د هغو پروژو له تائید سره راڅرګندی شو چې هدف يې په بدخشان کې د اوبو د برېښنا د وړو سټیشنونو جوړونه ده. د ۲.۳ ملیونو امریکايي ډالرو دغه پروژه به د چټا په کلي کې د ۱۰۰ کلوواټو، د سنګاب په کلي کې د ۸۵ کلوواټو او جورم په کلي کې د ۳۵۰ کلوواټو په ظرفیت د برېښنا د سټیشنونو جوړېدل تمویل کړي او شا او خوا ۴۰۰۰ کورنۍ به ورځخه ګټه پورته کړي. د دغې پروژې عمده هدف دا دی چې د کلیوالو سیمو اوسېدونکو ته د دومداره برېښنا د ورکولو بنسټ کېښودل شي، تر څو دوی له برېښنا څخه په ګټې اخیستنې سره د خپل ژوندانه لپاره نورې لارې خپلې کړي. د نشه يي توکو پر خلاف مبارزې امانتي صندوق له استرلیا، نیوزیلانډ، د اروپا کمېسیون او ایستونیا څخه مرستې او د برتانیې د نړیوالې پرمختیایي اداري او د برتانیا-افغان د نشه يي توکو د چارو له ګډې څانګې څخه يې د مرستې کلکې ژمنې ترلاسه کړي دي. نورو مرسته ورکوونکو، لکه سهیلي کوریا، د امریکا متحده ایلتونو، د کاناډا د نړیوالې پراختیایي اداري او سویډن هم له دغه صندوق سره د مرستې ژمنې کړي دي.

## افغان ولس د خپل راتلونکي لپاره په پلان جوړولو کې نظر وړاندې کوي

افغانان اوس دا موقع لري چې په ریښتني توګه د خپلې ولسوالۍ د اړتیاوو په ګوته کولو کې خپل نظر وړاندې کړي او راتلونکې کې یې بدلون راولي، دغه کار د هغه بهیر د پیل کېدو له



د کاري ډلې د غړیو د ټاکنې لپاره د رایې ورکولو بهیر

برکته ترسره کیږي چې له مخې یې د دوی د ولسوالیو د اړتیاوو د پلان جوړونې لپاره په کې کاري ډلې کار پیلوي. د دغه بهیر هدف دا دی چې له خاپي خلکو څخه د اوږد مهاله پرمختګ لپاره ستراتیژیک پلانونه راټول او اړوندو ولایتي چارواکو او وزارتونو ته د غور لپاره وسپارل شي.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د کلیو د بیا رغونې او پراختیا د چارو له وزارت سره په ګډه په ملي کچه د ساحوي پرمختګ د پروګرام د یوې برخې په توګه د ولسوالیو د پرمختیایي کاري ډلو د جوړولو بهیر پیل کړی دی. لومړنی ازمېښتي بهیر په کابل کې د ښوونکو له روزنې څخه وروسته د کندهار د دامان په ولسوالۍ کې د ورې له ۱۹ تر ۲۳مې نېټې (۱۲–۸اپریل) پورې تر سره شو. راتلونکې غونډې به په کندهار او بدخشان کې ترسره شي.



د اړینو اړتیاوو پر هکله د خلکو خبرې اترې

## له افغان مقننه قوې سره به د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام مرسته ادامه پیدا کړي

د ولسي جرګې د رئیس مرستیالې فوزیه کوفي وویل چې نړیواله ټولنه باید افغانستان یوازې پرې نږدي، ځکه چې اوس موږ یو فعال پارلمان لرو. اغلې کوفي په خپلو هغو څرګندونو کې چې په برسل کې یې د یو کانفرانس په ترڅ کې وکړې وویل چې، په افغانستان کې ولسواکي د "وړوکي ماشوم په څیر" په نړۍ تار تړلې ده او د ولسواک سیستم ځواکمنېدل دوامداره ملاتړ ته اړتیا لري. د برسل کانفرانس د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام او د بلجیم د پارلمان له خوا په ګډه تنظیم شوی و، تر څو د نویو ولسواکیو یا تازه شخړې څخه راوتلیو هېوادونو له پارلمانونو سره د دوامداره مرستې لپاره د مرسته ورکوونکو ملاتړ جذب کړي. دغه کانفرانس له هغو ژمنو سره پای ته ورسېد چې د پارلماني ملاتړ له پروژو سره به مرسته ورکوونکې خپلې مرستې زیاتې کړي.

## د افغانستان په پرمختګ کې د ایریکو ونډه وستایل شوه



میرمن ایریکو

د کابل پوهنتون د انجنیري پوهنځي رئیس او د جاپان د سفارت مرستیال د ایریکو اوهارا په یاد کې د غوایي په دریمه (۲۳ اپریل) د انجنیري د پوهنځي په کتابتون کې د نوموړې د یادګیرنې له تختې څخه پرده کش کړه. هغې د مړینې تر وخته هغې پروژې ته کار کاوه چې د کابل له پوهنتون سره مرسته کوي. دا چې اریکو د پروژې له بشپړېدو څخه وړاندې مړه شوه، په جاپان کې د دې کورنۍ د هغې د تلپاتې یادونې لپاره د انجنیري پوهنځي د کتابتون د بشپړتیا لپاره د ۸۰۰۰ امریکایي ډالرو مرسته وکړه.

د هغې کورنۍ په هغه پیغام کې چې د مراسمو په ترڅ کې ولوستل شو، هیله څرګنده کړه چې د دوی دغه کار به د افغانستان او جاپان له دوستۍ سره مرسته وکړي.



ډاکټر نظر او ښاغلی کاتو له یادګاري تختې څخه د پردې د کشولو پر مهال

## د افغانستان د حقوقو محصلینو په نړیواله سیالي کې برخه واخیسته

د حقوقو د پوهنځي څلورو محصلینو د خپل هیواد په استازیتوب په واشنګټن کې د فلیپ سي. جوسیپ د قانون نړیوالي تمثیلي محکمې په زړه پورې ۴۹مې سیالي کې برخه واخیسته.

دا دریم ځل دی چې افغانستان له ۲۰۰۴م کال راهیسې په دغو سیالیو کې برخه اخلي او سږ کال شا او خوا ۱۰۰ ولو په دغو سیالیو کې برخه اخیستې وه چې افغانستان ۸۰م مقام تر لاسه کړ. د ملګروملتونو په پراختیایي پروګرام کې د بشري حقوقو او عدلي چارو د څانګې ماموریت اینا جیویس او د عدلیې د پروژې مامور توبي بونیني له سیالي څخه مخکې دغو محصلینو ته لارښوونه وکړه او متحده ایالتونو ته هم ورسره لاړل.



**له ښي څخه کیڼ لوري ته:**

**احسان الله مستان، شعیب تیموری، غزال حارس، محمد آصف احسان، عبدالحی رووف، او څانګه صدیقی**

## د مشرانو جرګې او د مقننه قوې د ملاتړ د پروژې SEAL له خوا تنظیم شوي کانفرانس د کاري ورتیا د لوړولو لپاره ګټور تمام شو

د مقننه او اجرایه قوو تر منځ د اغیزمنو اړیکو په هکله نړیوال کانفرانس چې د ملي شورا او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام "د افغانستان د مقننه قوې د ملاتړ پروژې" له خوا په ګډه تنظیم شوی و، د وري له ۲۶ تر ۲۸مې نېټې (۱۵-۱۷اپریل) پورې په کابل کې ترسره شو. د مشرانو جرګې غړو د دغو دریو ورځو په اوږدو کې د عمومي ناستو او کاري ډلو د ګرمو خبراترو په ترځ کې د دولت پر مقننه قوې د دوی د خارجي او همدرانګه د حکومت د تګلارو د پلي کولو لپاره د لارښودو اصولو په توګه د قوانینو د تسوید اړوند خپل مسؤولیت په اړه یو لړ مسایل راپورته کړل. دغه کانفرانس د دې تر څنګ چې د مشرانو جرګې غړو ته یې دا زمینه مساعده کړه چې د سریلنکا، بنګلدیش، هندوستان او کاناډا د پارلمانونو له استازو سره خپلې تجربې شریکې کړي، دوی یې په حکومت کې د بربنیایي وسایلو د کاروني او د مالي پراختیا له مفاهیمو سره اشنا کړل.



**په عمومي ناسته کې د نویو مفاهیمو په هکله خبرې اترې**



**کاري ډلې د مسایلو د ارزونې په مهال**

## د سیسکو اکاډمي د معلوماتي تکنالوژۍ د راتلونکي پراختیا لپاره بستیز کار پیل کړ

د تیرو دریو میاشتو په اوږدو کې د بلخ، هرات او خوست په ولایتونو کې د درې نویو اکاډمیو له رسمي پرانیستې سره اوس مهال سیسکو په ټول افغانستان کې شپږ روزنیز مرکزونه لري چې د سیسکو له خوا دتصدیق شوي شبکې د اکاډمۍ پر بنسټ د معلوماتي تکنالوژۍ روزنه په کې ورکول کیږي. تر دې دمه د حکومتي وزارتونو (د ښځو د چارو او د مخابراتو) او څلورو پوهنتونونو (کابل، بلخ، هرات او خوست) ۳۱۸ زده کوونکي له دغو اکاډمیو څخه فارغ شوي دي.

د سیسکو اکاډمي پروژه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام، سیسکو، د نړیوالي پراختیا لپاره د متحده ایالتونو اداري، د معلوماتي تکنالوژۍ د ټولنې او د ملګرو ملتونو د خپل خوښې کارکوونکو د څانګې له خوا په ګډه پلې کیږي.

همدرانګه د کابل پوهنتون د معلوماتي تکنالوژۍ صندوق له یو لړې پراته مرسته ورکوونکې څخه د معلوماتي تکنالوژۍ اړوند کتابونو د مرستې له ترلاسه کولو سره تقویه شو. د کابل پوهنتون د کمپیوټر ساینس څانګې په ۲۰۰۵م کا ل کې د کمپیوټرساینس د محصلینو لپاره د معلوماتي تکنالوژۍ کتابتون جوړ کړ، خو دغې څانګې د محصلینو او پوهنځي لپاره یوازې یو څو چاپي مواد درلودل.



***استاد طارق میران د کابل پوهنتون د کمپیوټرساینس د څانګې په کتابتون کې***



**د لازیاتو معلوماتو لپاره:**

**ډومنیک میډلي، د خبري رسنیو د اړیکو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

**عزیز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org